**KHYBER PAKHTUNKHWA, PUBLIC SERVICE COMMISSION, PESHAWAR**
**(2010)**

**COMPETITIVE EXAMINATION FOR PROVINCIAL MANAGEMENT SERVICE**

**PUSHTO**

**Time Allowed: 03 hours** **Max: Marks: 100**

**نوټ:** ورومبنے سوال لازمی دے۔ د نورو سوالونو نه د خپلې خوښې څلور سوالونه اوکړئ۔ د ټولو سوالونو نمبرې يو برابرې دي۔

**يادګيرنه:** په وران کړے شوی او بيا ليکلے شوی جواب به نمبرې نشي ورکولے۔

**سوال نمبر۱: په لاندينو سوالونو کښې درست ټکے په نخښه کړئ۔**

۱۔ ''تذکرة الاولياء'' د چا کتاب دے؟ (سليمان ماکو، محمد هوتک، اخون درويزه، خوشحال خان خټک)

۲۔ د بايزيد انصاري مکتب ته کوم يو مکتب وائي؟ (روښاني مکتب، ديني مکتب، فکري مکتب، هندي مکتب)

۳۔ ''د پښتو نثر تاريخ'' دا د کوم اديب تخليق دے؟

(پروفيسر پريشان خټک، پروفيسر افضل رضا، ډاکټر محمد اعظم اعظم، ډاکټر اقبال نسيم خټک)

۴۔ خوشحال خان بابا د هندوستان کوم يو جيل کښې ؤو؟ (اټک، رنتنهمبود، بيجا پور، باګنګر)

۵۔ په پښتو شاعرئ کښې د ''موشګاف'' په نوم کوم يو شاعر يادېږي؟ (علی خان، کاظم خان، مرزا خان، عبدالحميد بابا''

۶۔ ''د شاه و ګدا'' مثنوي چا ليکلے دے؟ (حميد بابا، علی خان، کاظم خان، عبدالقادر خان)

۷) بلبل هند چا ته وئيلے شي؟ (کامګار خان، خوشحال خان، افضل خان، کاظم خان شيدا)

۸) '' د زړه آواز '' دا د چا شعري مجموعه ده؟

(امير حمزه خان شنواري، سيد رسول رَسا، فضل حق شيدا، پريشان خټک)

۹) د قلندر مومند خپل نوم څه ؤو؟ (سليم الرحمن، حبيب الرحمن، سيف الرحمن، موسیٰ خان)

۱۰) خوشحال خان خټک د څو کالو په عمر کښې واده کړے ؤو؟ (۱۸، ۲۰، ۲۲، ۲۴)

۱۱) ''دوه جهنډې'' افسانه چا ليکلې ده؟ (اجمل خټک، زيتون بانو، ګل افضل خان، راحت زاخيلي)

۱۲) د پښتو اولنئ چاپ ډرامه کومه يوه ده؟ (درس عبرت، د وينو جام، دُرشَل، درد)

۱۳) ''هنداره'' د چا ليکلې افسانه ده؟ (زيتون بانو، ګل افضل خان، امير نواز جليا، ارباب رشيد احمد خان)

۱۴) ''مرغئ'' د کومې افسانې کردار دے؟ (کونده جينئ، هنداره، ګجرے، د دارو بوتل)

۱۵) مير احمد شاه رضواني کوم ځائے پيدا شوے ؤو؟ (نوښار، اکبر پوره، اکوړه خټک، جاله بيله)

۱۶) ''ګنج پښتو'' د چا کتاب دے؟ (مولوی احمد، مفتي احمد جان، ګل احمد جان، مير احمد شاه رضواني)

۱۷) ''د بيديا ګلونه'' د چا شعري مجموعه ده؟ (مياں سيد رسول رسا، حمزه شنواري، فضل حق شيدا، علی خان)

۱۸) حمزه بابا يو ناول ليکلے دے۔ ددے څه نوم دے؟ (بنړے، خودکشي، شمئ، نوی چپې)

۱۹) په مجموعی توګه فضل حق شيدا د کوم صنف شاعر دے؟ (نظم، غزل، چاربيته، هائيکو)

۲۰) د پېښور زوړ نوم څه ؤو؟ (ثمر قند، باګرام، روه، روهستان)

بل مخ

**سوال نمبر ۲: دلاندینی انگریزی عبارت په آسانه پښتو کښې ترجمه اوکړئ۔**

**(a)**

In romance Pathans are not different from the other races of the world. As they have been in a permanent state of war, either against the foreign invaders or among themselves, one is Tempted to believe that these Afghans must be completely devoid of romance. But this is not correct. These Pathans are very Jolly, carefree and romantic people. They are not grumpy and pessimistic. They can dance and sing before and after fighting a bloody battlefield all day. They do not forget their sweet hearts even in the thick of the battle, and likewise their sweet hearts would be remembering them, shedding tears and praying for their victory and safety.

**(b)**

**دلاندینو نه صرف د دریو په پښتو کښې ترجمه اوکړئ۔**

1) More matter and less art.
2) As the face, so the slap.
3) United effort move the mountains.
4) Death cannot be avoided by care.
5) The Tyrant finds no happiness.
6) A word for the wise, the rod for the fools.

**سوال نمبر ۳: دلاندینی پښتو عبارت په انگریزی کښې ترجمه اوکړئ۔**

"الف" رحمن بابا په خپل کلام کښې ځائې په ځائې د دین او دُنیا مقابله او موازنه کړې ده او دین ئې د دُنیا نه غوره او افضل گنړلے دے۔ په دے کښې هیڅ شک نشته چه هغه دا دُنیا عارضی اؤ فانی گنړی۔ خو ددے سره پښه په پښه ناسته هم ناروا گنړی۔ د هغه په نیزد دین په دنیا کښې په ښکلے او سپیځلے طریقه ژوند تیرولو ته وائی۔ داسے ژوند چه پکښې دوکه، مکر، فریب، چل وَل او بدی نه وی او په دے نیمگړے دُنیا اؤ مختصر ژوند کښې انسان د خپل طاقت، صلاحیت او اهلیت مطابق عمل اوکړي چه ضمیر ئې خوشحاله او مطمئنه وی۔ چه د مرگ نه پس ئې هم خلق په ښو الفاظو یادوی او ددهٔ د شرافت، حیاء، عزّت او حرمت ستائنې کوی۔

"ب" **دلاندینو نه صرف د دریو په انگریزئ کښې ترجمه اوکړئ۔**

۱) اتی په ډمامو نه ویریږی
۲) اوبۀ په ډانگ نه بیلیږی
۳) بے زمانه به ئې شل نه کړي
۴) پټ غل باچا وی
۵) په زور کلی نه کیږی
۶) په لاس کښې شړشم نه زرغونیږی

**سوال نمبر ۴: د رحمن بابا کلام د متلونو په څیر هم استعمالیږی۔ بحث پرے اوکړئ۔**

**سوال نمبر ۵: وئیلے شی چه پښتو ټپه د حسن و عشق هنداره ده۔ ستاسو څه خیال دے؟**

**سوال نمبر ۶: د دستار نامے د نثر په رڼرا کښې د خوشحال خان خټک د نثر خصوصیات په خپلو ټکو کښې اولیکئ۔**

**سوال نمبر ۷: افسانه څه ته وائی؟ او د افسانے بنیادی عناصر کوم کوم دی؟**

**سوال نمبر ۸: امیر حمزه شنواری ته د غزل بابا وئیلے شی؟ د "غزونے" په رڼرا کښې ئې وضاحت اوکړئ۔**